مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ ۲۹مه | د ۲۰۲۰ د جولای ۱۹مه | ۵۶۹مه گڼه


# فساد او په دسترخوان کې بدلون؛

## ولسمشرغني: ۹۰ سلنه وګړي بېوزله دي، په ملي دسترخوان پروګرام کې مرستې ورسره کېږي




۳

## پوهنتون


۴ مخ

### کهندژ د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

د کیفیت تضمین پروګرام ته پاملرنه او له بېلابېلو نړیوالو پوهنتونونو سره د علمي هوکړو لاسلیکول د کهندژ د لوړو زده کړو موسسې راتلونکي پلانونه دي.




### کرنې ریاست: په هلمند کې د اصلاح شویو غنمو د تخمونو د پروسس لړۍ پیل شوه



د هلمند د کرنې او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي چې د یاد ریاست اړوند د بولان په څېړنیز فارم کې د غنمو د مورني تخمونو د تولید په موخه مورني تخمونه کرل شوي وو، چې اوس یې د پروسس لړۍ پیل شوې ده.

د هلمند د کرنې رییس زلمی الکو وایي، چې په دغه ولایت کې د غنمو د اصلاح شوي تخمونو د تولید په موخه د غنمو بېلابېل ډولونه کرل شوي وو، چې له دغو غنمو څخه به د غنمو مورني تخمونه تر لاسه شي.

د هغه په خبره، د غنمو دغه مورني تخمونه به د هغو شرکتونو په واک کې ورکړل شي، چې د اصلاح شوي تخمونو د تولید په برخه کې د فعالیت جواز لري. د هلمند دکرنې رییس وایي، دوی هلې ځلې کوي چې په دغه ولایت کې د بېلابېلو نباتاتو تخمونه اصلاح او تکثیر کړي تر څو د بزګرانو کرنیز محصولات د کمیت او کیفیت له پلوه ښه او د اقتصادي ودې لامل شي.

### سرپرستي؛ په ناورین کې ناوړه دود

۲ مخ

### د دوحې هوکړه؛ د مهالوېش ځنډ، احتمالي پایلې او سناریوګانې

۲ مخ

### چطور کودکانی سخت‌کوش و جاه‌طلب تربیت کنیم؟

۳ مخ

### نیویارک ټایمز: د افغان هوايي ځواک د روزنې او تجهیز ۱۷۴ میلیون ډالري پروژه له ستونزو سره مخ شوې

نیویارک ټایمز امریکايي ورځپاڼه وایي، چې د افغان ځواکونو د روزنې او تجهیز لپاره ۱۷۴ میلیون ډالري پروژه له ستونزو سره مخ شوې ده.

امریکایي رسنیو د افغانستان د بیارغونې د سرمفتېش اداري یا سیګار له قوله لیکلي چې امریکا د افغان ځواکونو د هوايي برخې د روزنې او تجهیز لپاره د ۱۷۴ میلیونو ډالرو پروژه پیل کړه، خو اوس داسې ښکاري چې دغه پروژه ډېره اغېزناکه نه ده او له ستونزو سره مخ ده.

د سیګار په راپور کې دغه راز راغلي، چې د افغانستان هوايي ځواک پیاوړی شوی، خو د بې پیلوټه الوتکو د کارونې او اخیستنې لپاره ځانګړې شوې پروژه له ډېرو ستونزو سره مخ ده.

په ورته وخت کې نیویارک ټایمز بیا وایي چې که له طالبانو سره د هوکړې مطابق امریکایي ځواکونه او روزونکي له افغانستان وځي، نو ښايي دغه پروژه د معلوماتو د کموالي او روزنکو د نشتوالي له امله له ناکامۍ سره مخ شي.

د افغان ځواکونو د روزنې د میلیون ډالري پروژې په تړاو دغه څرګندونې په داسې حال کې کېږي، چې امریکا ژمنه کړې وه چې د افغان هوايي ځواک د پیاوړتیا لپاره به پر دغه ځواک میلیونونه ډالر لګوي او دغه راز به ورته پرمختللي وسایل او چورلکې ورکوي، ترڅو وکولی شي چې د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته د تروریزم پر وړاندې مبارزه وکړي، خو اوس د امریکا دغه ژمنې تر ډېره نه دي عملي شوي.

### ملي امنیت شورا: تېره میاشت په وسله والو بریدونو او نښتو کې ۴۲۰ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده



۲ مخ

### اسوشیتیدپرس: چهار عضو رهبری طالبان شامل هیئت مذاکره‌کننده این گروه استند



از اعضای شورای رهبری طالبان بی آن‌که نامی از آنان برده شود، به خبرگزاری اسوشیتیدپرس تائید کرده‌اند که نام‌های چهارعضو رهبری این گروه نیز در فهرست نام‌های هیئت گفت‌وگوکنندهٔ این گروه استند. به گفتهٔ این اعضای طالبان، هیئت گفت‌وگوکنندهٔ طالبان بیست عضو دارد. پیش از این، ملایعقوب، پسرملا محمد عمر، رهبر پیشین طالبان نیز به‌حیث مسؤل بخش نظامی این گروه تعیین شده‌است. این تغییرات با دیدگاه‌های متفاوتی روبه‌رو شده‌است.

سیداکبر آغا، از فرمانده‌هان پیشین طالبان در این باره گفت: «شیخ عبدالحکیم صاحب، نور محمد ثاقب، ملاشیرین آخوند و مولوی کبیر کسانی استند که انتخاب شده‌اند.»

این تغییرات در میان گروهٔ طالبان، در آستانهٔ آغاز گفت‌وگوهای میان افغانان صورت می گیرد. جاوید کوهستانی، نظامی پیشین بیان داشت: «مجموع رهبران طالبان به ملامحمد عمر و خانوادهٔ او اخلاص و احترام بیش از حد دارند. برای این‌که توافقات بتوانند در داخل زمینهٔ اجرایی پیدا بکند این انتخاب صورت گرفته‌است تا زمینهٔ اختلاف در میان فرماندهان بوجود نیاید.»

در همین حال، دیوید مارتین، سفیر فرانسه در افغانستان در یک گفت‌وگوی ویژه با طلوع‌نیوز گفته است که گفت‌وگوهای میان افغانان باید هرچه زودتر آغاز شوند: «گفت‌وگوهای میان افغانان باید بی درنگ آغاز شوند. سپس خواهیم دید که کی می‌خواهد با نیت نیک گفت‌وگو کند و کی نمی‌خواهد. ما برنبیاد این متغییرها پشتیبانی مان را از افغانستان تنظیم خواهیم کرد.»


Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ

Aksos
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریځ

# سرپرستي؛ په ناورین کې ناوړه دود

ولسمشر غني د لوړې د مراسمو پر مهال وویل چې په پنځلسو ورځو کې به خپله کابینه اعلان کړي او د سرپرستۍ دود به پای ته ورسوي. ولسمشر غني او ویاندویانو یې بیابیا ویلي چې په هېواد کې د سرپرستۍ دود د ختمېدو لپاره عملي اقدام کوي. په تېرو څو اونیو کې ولسي جرګې هم په ځلونو له حکومت غوښتي چې دوی ته نوي وزیران د باور رایې د اخیستلو لپاره ور معرفي کړي، خو تر اوسه یو وزیر هم دغه جرګې ته نه دی معرفي شوی. د ولسي جرګې غړي هم وايي چې تر اوسه د وزیرانو اسناد د ارزونې لپاره نه دي ور لېږل شوي.

سرپرستي په افغان حکومت کې ډېر پخوانی دود دی. ولسمشر غني ان په خپله تېره دوره کې د ولسي جرګې پرېکړو ته ژمن نه و او هغه وزیران یې نه لرې کول چې ولسي جرګې د باور رایه ترې اخیستې وه. د بهرنیو چارو پخواني وزیر څو کاله د سرپرست په توګه دنده ترسره کړه، په داسې حال کې چې سرپرست وزیر یوازې دوې میاشتې حق لري چې خپلو چارو ته ادامه ورکړي. په دې موده کې یې هم صلاحیتونه محدود دي او هومره صلاحیت نه لري لکه د باور رایې لرونکی وزیر یې چې لري.

دا هر څه حیرانوونکي دي. حکومت د فساد پر وړاندې مبارزه کې ناکام دی، د نشه یي توکو پر وړاندې په مبارزه کې ناکام دی، د امنیت په تامین کې ناکام دی، د سولې بین الافغاني خبرو په پیلولو کې پاتې راغلی دی، د ملي حاکمیت د ساتلو په مسئله کې پاتې راغلی، جنايي جرمونه اوج ته رسېدلي، زورواکي په اوج کې ده، د وکیلانو او قوماندانانو زامنو په ښارونو او کلیو کې نظامي مانورونه پیل کړي، دا هر څه د همدې حکومت په لمن کې ترسره کېږي، دا به ښايي سخت کار وي، پر وړاندې یې اقدام نه شي کولی، خو هغه څه چې په دوی پورې اړه لري هغه هم نه شي کولی. وزیر یې پارلمان ته نه معرفي کوي او د باور رایه نه شي ورته اخیستی. دا هر څه شکونه پیدا کوي، اندېښنې پیدا کوي او د ولس په حق کې ستره جفا ده.

په داسې یوه وضعیت کې چې هېواد ژمنو او رښتینو شخصیتونو ته اړتیا لري او د دې وخت دی چې باید وړ او په کار پوه کسان په دندو وګومارل شي او په دې توګه سرپرستي ختمه شي، خو حکومت لا هم خپله سر زوري کوي او هر څه د یوې لوبې په شان روان دي. د چارو یو شمېر شنونکي بیا پر دې باور هم دي چې دلته د فساد لویې معاملې دي، په کمپاینونو کې پیسې لګول شوې دي، نو حکومت اړ دی چې ځینې کسان وزیران کړي. دا کسان بیا د باور رایه نه شي اخیستی، نو له همدې امله هر څه ګډوډ پراته دي.

حکومت باید د فساد له منځه وړلو، قوي اداري د جوړولو، ثبات، کاري نظم او پرمختګ لپاره په دې حساسو شرایطو کې په کار پوه او باوري کسان پر دنده وګوماري او نور دې په هېواد کې د سرپرستۍ دود په رښتیني مانا ختم کړي. پارلمان هم باید پر حکومت فشار راولي چې د معاملو پر ځای کار او خدمت وکړي.

# د دوحې هوکړه؛

## د مهالوېش ځنډ، احتمالي پایلې او سناریوګانې

لیکنه: ذاکر جلالي

په دوحه کې د امریکا او طالبانو تر منځ د ۲۰۲۰ ز کال د فبروري په ۲۹مه یا د ۱۳۹۸ لمریز کال د کب په ۱۰مه د تاریخي هوکړې پر لاسلیک ۱۳۵ ورځو واوښتې. ۱۳۵ ورځې ځکه مهمې دي چې په هوکړه کې دغه شمېر ورځې یو پړاو ګڼل شوی او په دې مرحله کې ډېرو لوریو ته ځینې مسوولیتونه ورګرځي چې تر سره یې کړي. د دغو مسوولیتونو ځینې یې پلي شوي او ځینې پاتې دي. اوس پوښتنه دا ده، که د هوکړې په مهالوېش کې ځنډ راځي، دا به د نورو بندونو پر پلي کېدو اغېز کوي او که نه؟ یا په مشخص ډول، د هوکړې د مهالوېش په تطبیق کې ځنډ به د بهرنیو ځواکونو د وتلو موده له ۱۴ میاشتو زیاته نه کړي؟ په دې لیکنه کې همدا موضوع شاربو

### په ۱۳۵ ورځو کې مسوولیتونه

د دوحې هوکړه درې برخې لري. په لومړۍ برخه کې د بهرنیو ځواکونو د وتلو جزییات دي. په دویمه کې یې پر هغو تضمینونو بحث شوی چې طالبان به یې متحده ایالتونو ته ورکوي چې د افغانستان خاوره به د امریکا او متحدینو پر خلاف نه کارول کېږي. په درېیمه برخه کې د امنیت شورا له خوا د هوکړې د تایید غوښتنه او راتلونکې «نوي افغان اسلامي حکومت» سره د متحده ایالتونو د «مثبتو» اړیکو په باب ده.

لومړۍ برخه کې چې د بهرنیو ځواکونو د وتلو جزییات بیان شوي راغلي، چې متحده ایالتونه او متحدین او ائتلافي شریکان به یې خپل ټول غیر ډیپلوماتیک پرسونل د هوکړې له لاسلیک سره سم په ۱۴ میاشتو کې له افغانستان څخه وباسي. په جزییاتو کې یې په (الف) برخه کې لولو چې په ۱۳۵ ورځو کې به متحده ایالتونه د خپلو ځواکونو شمېر (۸۶۰۰) ته راټیټوي او متحدین او ائتلافیان به یې هم په ورته انډول د خپلو ځواکونو په شمېر کې کمښت راولي. د (الف) برخې دویم بند کې راځي چې دغه ځواکونه به له پنځو پوځي اډو وځي او د همدې لومړۍ برخې د (ب) برخې لومړي بند کې راځي چې پاتې بهرني ځواکونه به په پاتې نهه نیمو میاشتو کې په بشپړ ډول له افغانستانه وځي.

د امریکا د دفاع وزارت (پنټاګون) ویاند جاناتها هافمن د تېرې سې شنبې ورځ (د چنګاښ ۲۴مه) تایید کړه چې له طالبانو سره د شوې هوکړې پر بنسټ امریکايي ځواکونه په افغانستان کې له پنځو پوځي اډو وتلي دي. هافمن زیاته کړې چې دمګړۍ شاوخوا ۸ زره امریکايي ځواکونه په افغانستان کې پاتې دي. تر ده وړاندې زلمي خلیلزاد هم ویلي وو چې امریکايي ځواکونه په افغانستان کې له پنځو اډو وتلي دي. په کابل کې یوه امریکايي چارواکي طلوع‌نیوز ته د نوم نه ښودلو په شرط ویلي چې دغه ځواکونه له هلمند، اروزګان، پکتیکا او لغمان ولایتونو څخه وتلي دي.

دا ښيي چې امریکايي لوري چې په ۱۳۵ ورځو کې د ځواکونو د وېستلو کومه ژمنه چې د دوحې په هوکړه کې کړې، ورته ژمن دی او پلی کړې یې هم دی. څه نه دي شوي؟

د همدې لومړۍ برخې په (ج) برخه کې متحده ایالتونه ژمنه کوي چې د «اعتماد جوړولو د یوه اقدام په توګه» به د مارچ تر ۱۰مې او یا کب تر ۲۰مې پنځه زره تنه د طالبانو بندیان او همدا راز زر تنه د افغان حکومت بندیان خوشې کېږي. دا هغه برخه ده چې وځنډېده. اوس چې د هوکړې له لاسلیک څلور نیمې میاشتې تېرېږي، لا هم د بندیانو خلاصون لړۍ نه ده بشپړه شوې. دغه ځنډ د بین الافغاني خبرو د نه پیلېدو تر ټولو مهم دلیل بلل کېږي.

په داسې حال کې چې له طالبانو او افغان حکومت سره د امریکا متحده ایالتونو ګډه اعلامیه کې ډېر واضح لیکل شوي چې یاد بندیان به خوشي کېږي او امریکا به په دې برخه کې مرسته کوي.

په همدې برخه کې ژمنه کېږي چې د یاد شمېر بندیانو له خلاصون وروسته چې بین الافغاني خبرې به پیلېږي، په دریو میاشتو کې «پاتې ټول بندیان خوشې شي». اوس چې د پورته شمېر بندیانو خلاصون نه دی بشپړ شوی، د پاتې شمېر بندیانو خلاصون طبعاً پاتې دی.

امریکایانو تمه درلوده چې په دې موده کې به طالبان او افغان سیاستوال پر یو لنډمهاله حکومت موافقې ته ورسېږي، مګر تر اوسه طالبانو نه ده څرګنده کړې چې هغوی به پر موقت حکومت توافق وکړي یا نه؟

د همدې برخې (د) برخه کې راځي چې د بین الافغاني مذاکراتو له پیل سره به «[د طالبانو] د غړو په خلاف د متحده ایالتونو د اوسنیو بندیزونو او د جایزې لیست د اداري بیاکتنې بهیر په دې هدف پیل کړي چې دغه بندیزونه به د ۸/محرم/۱۴۴۲هـ ق – ۲۵/اسد/۱۳۹۹هـ ش – ۱۵/اګست/۲۰۲۰م تاریخ پورې لرې کړي.»

همداسې (ه) برخه کې راځي چې د بین الافغاني خبرو له پیل سره به «متحده ایالتونه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له نورو غړو او افغانستان سره په دې هدف ډیپلوماتیکي هڅې پیل کړي، چې د ۲۴/رمضان/۱۴۴۱هـ ق – ۲۸/ثور/۱۳۹۹ هـ ش – ۱۷/می/۲۰۲۰م تاریخ پورې د بندیزونو له نوملړ څخه [د طالبانو] د غړو نومونه وایستل شي.»

پورته یادې شوې ټولې د دوحې هوکړې هغه برخې دي چې نه دي پلې شوې. د یادولو ده چې د دغو ټولو برخو په سر کې راځي چې «د بین الافغاني خبرو له پیل سره» او بین الافغاني خبرې د پنځه زره او زرو تنو بندیانو خلاصون پورې تړلې دي. دا په دې مانا چې د دغو نورو برخو د ځنډېدو لامل د بین الافغاني خبرو نه پیلېدل دي.

### سره تړلې برخې

بل مهم ټکی د هوکړې په مقدمه کې لولو. په مقدمه کې راځي چې «د هر اړخیزې سولې توافقنامه له څلورو برخو جوړېږي». څلور برخې عبارت دي له:

د امریکا او متحدینو پر خلاف یې د افغانستان د خاورې نه کارولو تضمین، د بهرنیانو بشپړ وتل، د کب په ۲۰مه یا مارچ ۱۰مه له افغان جهتونو سره بین الافغاني خبرې او «دایمي او هر اړخیز اوربند به د بین الافغاني ډیالوګ او مذاکراتو په اجنډا کې یوه موضوع وي.»

د هوکړې څلورمه برخه چې د بین الافغاني مذاکراتو بحث دی، په پای کې یې راځي «د بین الافغاني مذاکراتو ګډونوال به د تطبیق د ګډو میکانیزمونو په شمول د یوه دایمي او هر اړخیز اوربند په نېټې او څرنګوالي بحث وکړي او د افغانستان د راتلونکې سیاسي نقشې له بشپړېدا او توافق سره به یې د یوې برخې په توګه اعلان کړي.»

په مقدمه کې په دغو څلورو برخو کې د یادښت په پای کې راځي «پورتنۍ څلور برخې یوه له بلې سره مرتبطې دي او هره برخه به د توافق شوي مهالوېش او توافق شویو موادو مطابق تطبیق شي. پر لومړنیو دوو برخو توافق، دوو وروستنیو برخو ته لار پرانیزي.»

لکه څنګه چې پورته بحث وشو چې له هوکړې سره سم د بندیانو نه خلاصون د بین الافغاني مذاکراتو د ځنډ لامل شو او د بین الافغاني مذاکراتو نه پیلېدل د نورو برخو د ځنډ عامل شو. همدا راز دا هم هوکړه کې راغلي چې پورتنۍ څلور برخې له یوه بل سره تړلې دي. دا په دې مانا، که همداسې د هوکړې برخې په ځنډ پلې کېږي، نو ښايي د بهرنیو ځواکونو بشپړ وتل هم په څوارلسو میاشتو کې بشپړ نشي. سره له دې چې په لومړنیو ۱۳۵ ورځو کې د بهرنیو ځواکونو وتل له هوکړې سره سم شوي دي.

د نړۍ د ډېرو هېوادونو د سولې تړونونه له ستونزو سره مخ شوي او سل په سلو کې به ډېر کم تړون عملي کېږي، پکار ده چې د تړون دواړه لوري د هوکړې عملي کېدو کې زغم او صبر ولري.

افغان حکومت پر طالبانو پړه اچوي چې د هوکړې عملي کېدو کې ناغېړي کوي، مګر طالبانو تازه څرګنده کړې چې امریکایان د تړون له ځینو موادو څخه سرغړونې کوي او په غیر جنګي سیمو کې بې پیلوټه بریدونه او تر دې له مخه د خلکو په کورونو یې چاپې وهلې دي.

### دوه تفسیرونه

د هوکړې دوه ډوله تفسیر کېدای شي. لومړی دغه یو چې پورته پرې بحث وشو. یانې بین الافغاني مذاکرات نه دي پیل شوي، دایمي اوربند نه دی اعلان شوی او که بین الافغاني خبرې پیل هم شي، ښکاره خبره ده چې په نهه نیمو میاشتو کې د ټولو بهرنیو ځواکونو وتل نتیجه نه ورکوي. بنا پر دې، ښايي بهرني ځواکونه هم له مهالوېش سره سم ونه وځي. دا چې د بهرنیو ځواکونو د نه وتلو په صورت کې کومې احتمالي سناریوګانې مطرح دي، وروسته پرې بحث کېږي.

دویم تفسیر داسې کېږي، خصوصاً د ځینو طالبانو له انده چې د دوحې د هوکړې دوه اساسي برخې دي. لومړۍ د طالبانو له خوا امریکا او متحدینو ته یې د تضمین ورکول چې د افغانستان خاوره به د هغوی پر خلاف نه کارېږي او په مقابل کې به یې بهرني ځواکونه له افغانستان څخه وځي. اوس په دې دوو برخو کې تر دې دمه نه کوم اختلاف شته او نه هم ځنډ راغلی. نو په دې اساس په پاتې نهه نیمو میاشتو کې به بهرني ځواکونه له افغانستانه په بشپړ ډول وځي.

### احتمالي سناریوګانې

دې ټول وضعیت ته په پام سره، موږ په ټوله کې دوو حالتونو سره مخ یو چې هر یو یې دوې سناریوګانې لري:

لومړی حالت د بهرنیو ځواکونو د وتلو دی. په دې حالت کې دوې سناریوګانې مطرح دي:

لومړی: که بین الافغاني خبرې تر هغه وخته پیل شوې وي او نتیجه یې هم ورکړې وي او بهرني ځواکونه وځي؛ په دغه صورت کې به د افغانستان سیاسي جوړښت عادي او سوله‌ییز بدلون مومي.

دویم: که بین الافغاني خبرې یا پیل شوې نه وي او که پیل شوې هم وي چې احتمالاً همداسې به وي، نتیجه یې لا نه وي ورکړې او بهرني ځواکونه له هوکړې سره سم ووځي؛ په دې حالت کې سیاسي بدلون په بین الافغاني مذاکراتو پورې تړلی پاتې کېږي. که د بهرنیانو په نشتون کې اوربند شوی وي او بین الافغاني خبرو نتیجه ورکړه، دا به هم یو سوله‌ییز بدلون وي؛ خو که بین الافغاني خبرې د بهرنیانو په نشتون کې یوه بُن‌بست سره مخ کېږي، په دې صورت کې د پوځي حل بحث مطرح کېږي.

دویم حالت دا چې د هوکړې ځینې برخې ځنډېدلې دي، نو که د بهرنیو ځواکونو وتل هم په څوارلس میاشتو کې بشپړ نشي او د هغوی له خوا داسې استدلال وشي چې بین الافغاني خبرو لا نتیجه نه ده ورکړې او د بهرنیو ځواکونو بشپړ وتل به د بین الافغاني خبرو تر نتیجې پورې ځنډېږي، بیا هم دوې سناریوګانې مطرح دي:

لومړی: ښايي له بین الافغاني خبرو سره په هم‌مهاله توګه د دوحې د هوکړې پر مهالوېش او ځینو برخو بیاکتنه وشي، بیا مذاکرات وشي او د بهرنیو ځواکونو بشپړ وتلو ته نوې نېټه وټاکل شي. په دې صورت کې ښايي د دوحې هوکړه کې ځینې نور اصلاحات هم راشي که یې لوري اړتیا وویني. دغه احتمال ډېر برېښي.

دویم دا چې بهرنیان به هڅه وکړي چې په ډېرو پلمو تر نامعلومې نېټې خپل پوځي حضور په افغانستان کې وغځوي. په دې صورت کې بیا د جګړې او پوځي حضور بحث جدي کېږي او ان د دوحې هوکړې د ماتېدو بحث مطرح کېږي.

که امریکا دا وروستۍ سناریو وغواړي، نو په سیمه کې به روسیه، چین او ایران د امریکا له شتون سره لا ډېر حساسیت وښيي او کیدای شي طالبان هم د جګړې په اوسنۍ ستراتیژۍ کې بدلون راولي، ځینې داسې بریدونه وکړي چې امریکا اړباسي په خپلو وتلو فکر وکړي. ځکه له ۲۰۱۴ ز کال وروسته په سیمه کې بدل شوي شرایط د امریکا په ګټه نه برېښي. یو له هغو دلایلو چې له طالبانو سره یې د امریکا هوکړه یقیني کړه، د سیمې بدل شوي شرایط ښکاري.

### پای

دې ټول وضعیت او پېچلتیاوو ته په پام سره، پکار ده چې افغان لوري، افغان حکومت، طالبان او افغان مطرح سیاسي لوري د وضعیت حساسیت او باریکۍ ته پام وکړي او هر لوری خپل مسوولیت ادا کړي څو بین الافغاني خبرې پیل شي او نتیجه هم ورکړي.

ستونزه یوازې د بین الافغاني خبرو په پیلېدو هم نه اوارېږي. د بې‌ځایه سرو کرښو او د څو کلنو «لاسته‌راوړنو» بحثونه چې تر ډېره په مذاکراتي بهیر کې د خنډجوړولو په هڅه کېږي، شاته وغورځول شي او افغانستان ته د سولې، ثبات او ټیکاو د راګرځېدو لپاره له دې تاریخي فرصت څخه په بشپړ مهارت او درایت سره ګټه پورته شي، څو افغانستان له خپلو ظرفیتونو او پوټانشیل څخه د خپلې ښېرازۍ لپاره استفاده وکړي.

# فساد او په دسترخوان کې بدلون؛

## ولسمشرغني: ۹۰ سلنه وګړي بېوزله دي، په ملي دسترخوان پروګرام کې مرستې ورسره کېږي



افغان حکومت وايي چې د فقر او بېوزلۍ پر وړاندې د مبارزې لپاره يې د ملي دسترخوان تر نامه لاندې پروګرام پيل کړی دی. ولسمشر غني تېره ورځ دغه پروګرام پرانيست چې په هغه کې به د ميليونونو ډالرو په ارزښت خوراکي توکي پر بېوزلو کورنيو وېشل کېږي. ولسمشر غني وايي چې د هېواد ۹۰ سلنه وګړي د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي او دوی هڅه کوي تر خپلې وسې له ولس سره مرسته کوي. بلخوا په ټولنيزو رسنيو کې بيا د حکومت پر دې پروګرام نيوکې ډېرې دي او خلک وايي چې دا د چارواکو پلانونه دي او يوازې غواړي د ځينو مفسدو کړيو جيبونه ډک شي.

افغان حکومت په هېواد کې د کرونا ويروس له پراخېدو سره هممهاله له بېوزله کورنيو سره د وچې ډوډۍ د وېش پروګرام پيل کړ، خو په دغه پروګرام کې د فساد پراخ تورونه موجود دي. اوس د ولسمشر غني په مشرۍ افغان حکومت پرېکړه کړې چې د ملي دسترخوان تر نامه لاندې به يو نوی پروګرام پيلوي او په هغه کې به پر بېوزله خلکو خوراکي توکي وشي. نړيوالې مرستندويه موسسې او ځينې بنسټونه له دغه پروګرام سره مرسته کوي.

د ولسمشر دويم مرستيال د دغه پروګرام د پرانيستې د مراسمو په پيل کې وويل چې دوی له کرونا سره په مبارزه کې بريالي دي. بلخوا د لومړي ځل لپاره ولسمشر غني اقرار سره له دې چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې اکثريت افغانانو په دوديزه درملنه او ځاني مراقبت له کرونا سره مبارزه وکړه، خو افغان حکومت وايي چې دوی بريالي شوي چې کرونا په هېواد کې کنټرول کړي. سرور دانش بيا همدا راز وايي چې دوی لا هم د کرونا پر وړاندې مبارزه کوي او له مرستندويو هېوادونو غواړي چې لا ډېرې مرستې له افغانستان سره وکړي. هغه په روغتونونو او روغتيايي مرکزونو کې د تجهيزاتو له کمښت هم يادونه وکړه او پر مرستندويو بنسټونو يې غږ وکړ چې د افغانستان لاسنيوی وکړي.

ولسمشر غني بيا د خپرو خبرو د پيل پر مهال ويلي چې دوی په دې پروګرام کې د مفسدو کسانو د لاسوهنې مخنيوی کوي او هغه کسان به جزايي کوي چې دا ځل فساد وکړي. د ده په خبره: ((له يو څو ځايونو راته خبرتيا رسېدلې وه چې يو شمېر ولسوالانو غوښتل چې يوه برخه د پيسو دوی ته ولاړه شي،که مخ مې دې وليده له پښو نه مو ځړوم. د بېوزلو له پيسو نه چې څوک ورته ګوري چې خپل جېب کې کېږدي، دا نه يوازې له ولس سره خيانت دی، بلکې له خدای ج سره هم خيانت دی)).

ولسمشر غني داسې مهال د مفسدينو د نيولو او سزايي کولو خبره کوي چې د وچې ډوډۍ د وېش په پروګرام کې د پراخ فساد ادعاوې کېدې، چې حکومت نه يوازې ځېرلې نه دي، بلکې هڅه کوي په يو ډول د خلکو له ذهن راولاړې شوې پوښتنې پاکې شي.

وکړ چې د هېواد ۹۰ سلنه وګړي د فقر او بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي. هغه شمېره چې حيرانوونکې او ښايي ډېرو ته د نه منلو وړ وي. ولسمشر غني د خپل واک په لومړۍ دوره کې ويلي وو چې د خلکو په دسترخوان کې به بدلون راځي، کاري فرصتونه به برابرېږي او د خلکو د اقتصاد کچه به لوړېږي، خو پرون يې په غونډه کې د خبرو پر مهال وويل چې ۹۰ سلنه وګړي د فقر تر کرښه لاندې ژوند کوي. نوموړي د ملي دسترخوان پروګرام د دغه فقر د کمولو لپاره اړين وباله او په خبره يې هڅه کوي چې د ولس او حکومت ترمنځ شته قرارداد پياوړی وساتي.

د ولسمشر د څرګندونو له مخې، دغه پروګرام په دوو مرحلو کې پلی کېږي. په لومړۍ مرحله کې به د ۳۴ ولايتونو په ۱۲۳ ولسواليو کې په ۱۲۸۹۶ کليو کې پر ۱،۶۷ ميليونه بېوزله کورنيو د ۸۶ ميليونه ډالرو په ارزښت خوراکي توکي وېشل کېږي. په دغه توکو کې غوړي، وريجې، بوره، اوړه او د لاس مينځلو صابون شامل دي. په دويمه مرحله کې به د ۳۴ ولايتونو په ۲۳۵ ولسواليو او ۲۱۸۴۲ کليو کې ۲،۵ ميليونه بېوزله کورنيو ته د ۱۵۸ ميليونو ډالرو په ارزښت خوراکي توکي وېشل کېږي. حکومت وايي چې دا د ټول نفوس ۹۰ سلنه وګړي تشکيلوي.

حکومت داسې مهال په ولسواليو او ولايتونو کې د مرستو او خوراکي توکو د وېش خبره کوي، چې د فساد وېره خورا ډېره ده او د ډېرى ولسواليو پر لارو طالبان حضور لري چې ښايي دغه مرستو ته خنډونه جوړ کړي.

## افغان حکومت د پاکستان د توغنديزو بريدونو په تړاو د ملګرو ملتونو امنيت شورا ته شکايت کړی

افغان حکومت د پاکستان له لوري پر افغان خاورې د توغنديزو بريدونو په تړاو د ملګرو ملتونو امنيت شورا ته اعتراض ليک استولی دی.

وروسته له هغې چې د کنړ ولايت د سرکانو ولسوالۍ او اسعداباد په ځينو سيمو د پاکستان له لوري توغنديز بريدونه وشول، د افغانستان ولسي جرګې په دې اړه د ځواب ويلو لپاره، تېره ورځ د دفاع، کورنيو او بهرنيو چارو وزارتونو او د ملي امنيت رياست مسوولين خپلې ځانګړې غونډې ته وربللي وو. وکيلانو د پاکستان له لوري د توغنديزو بريدونو او د ډيورنډ فرضي کرښې د اوږدو په صفري نقطه کې د تاسيساتو جوړولو په اړه انديښنه څرګنده کړې او د ستونزې د هوارۍ غوښتنه يې کړې ده.

د ولسي جرګې لومړي مرستيال محمد ميرزا کټوازي ويلي، د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت



سرپرست د خلکو استازو ته وويل، چې افغان حکومت په دې اړه د ملګرو ملتونو امنيت شورا ته رسمي اعتراضيه ليک استولی دی.

هغه زياته کړې: «ټولو چارواکو موږ ته ډاډ راکړ، چې ستاسو په همکارۍ هڅې کوو، چې دا عمل تکرار نه شي او چې تکرار شي، سره له دې چې افغان حکومت د ملګرو ملتونو امنيت شورا ته اعتراضيه ليک هم استولی، باالمثل عمل به هم وکړي.»

د ولسي جرګې په دې ځانګړې ناسته کې د بهرنيو چارو وزارت سرپرست حنيف اتمر، د کورنيو چارو وزارت سرپرست مسعود اندرابي، لوی درستيز ياسين ضيا او د ولايتونو په چارو کې د ملي امنيت د عمومي رياست مرستيال ګډون کړی و.

په ورته وخت کې د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت د جمعې په ورځ د کنړ په صفري نقطه د پاکستاني توغنديزو بريدونو په اعتراض يو اعلاميه خپره او په دې اړه انديښنه څرګنده کړې وه.

د بهرنيو چارو وزارت د اعلاميې په يوه برخه کې پاکستاني چارواکو ته په خطاب کې راغلي وو چې د اشان بريدونو دوام به ناوړه پايلې او د دواړو هېوادو په اړيکو هم منفي اغېز ولري.

د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د پاکستان له لوري د توغنديز بريدونه له ډيپلوماټيکو هڅو وروسته په فوري ډول ودرېدل او د لا کړکېچن وضعيت له رامنځته کېدو مخنيوی وشو.

## ملي امنيت شورا: تېره مياشت په وسله والو بريدونو او ښنتو کې ۴۲۰ ملکيانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده

ملي امنيت شورا وايي، چې په تېرې يوې مياشتې کې د وسله والو طالبانو په بريدونو کې ۴۲۰ ملکيانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

د دغې شورا له خوا په يوې اعلاميې کې راغلي چې د يادو کسانو له ډلې ۱۲۹ ملکيان وژل شوي او ۲۹۱ نور ټپيان شوي دي.

په اعلاميې کې راغلي چې طالبان د جګړې درولو پر ځای د بې ګناه خلکو د وژلو لړۍ ته دوام ورکوي او په هېواد کې د سولې ټينګولو ته يې هېڅ دريغ نه دی ښکاره کړی.

دغې اداري ويلي چې د تېرې مياشتې بريدونه په ۳۰ ولايتونو کې ترسره شوي چې ډېر تلفات يې په کندهار، ننګرهار او سمنګان کې اړولي او دغه کړنې يې د جنګي قوانينو خلاف بللې دي.

په ورته وخت کې طالبانو د ملي امنيت شورا د دې ادعا په اړه څه



نه دي ويلي، خو تر دې وړاندې يې د حکومت دغه ادعاوې رد کړې او ټينګار يې کړی چې دوی په جګړه کې د ملکيانو د ژوند د خونديتوب لپاره جدي هڅې کوي.

دا په داسې حال کې ده چې تېره دوشنبه د سمنګان ايبک ښار کې د امنيت ملي رياست ته نږدې د طالبانو په موټر بم چاودنه او ډله ييز بريد کې ۱۱ کسان ووژل شول او ۶۳ نور ټپيان شول چې ډېرى برخه يې ملکيان وو. په تېرې مياشتې کې دا تر ټولو لوی هدفي بريد و چې طالبانو يې مسووليت واخيست.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون د وروستي رپوټ پر اساس، د ۲۰۲۰ کال د لومړيو شپږو مياشتو په اوږدو کې ۱۲۱۳ ملکيان په بېلابېلو امنيتي پېښو کې وژل شوي او ۱۷۴۴ نور ټپيان شوي دي. د دغه کمېسيون په وينا، د يادو تلفاتو نيمه برخه د طالبانو په بريدونو کې ترسره شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې وړمه ورځ افغان او امريکايي چارواکو د طالبانو د بريدونو ډېرېدو په اړه انديښنې څرګندې کړې دي. ولسمشريزې ماڼۍ ويلي چې کابل او واشنګټن په دې اړه هوکړه ته رسېدلي چې ژر تر ژره دې بين الافغاني خبرې پيل شي.

## پنټاګون: ترکيې زرګونه سوريايي جنګيالي د ليبيا د حکومتي ځواکونو د ملاتړ لپاره هغه هېواد ته استولي دي

د امريکا دفاع وزارت يا پنټاګون وايي، ترکيې ۳۵۰۰ سوريايي جنګيالي د ليبيا د حکومتي ځواکونو د ملاتړ لپاره هغه هېواد ته استولي دي.


د امريکا دفاع وزارت په يوه راپور کې ويلي چې دغه جنګيالي د ۲۰۲۰ کال په لومړيو دريو مياشتو کې ليبيا ته استول شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې ليبيا دا مهال د يوه ياغي قوماندان خليفه حفتر پر ضد په کورنۍ جګړه کې ده.

د امريکا پوځ وايي چې دغه ۳۵۰۰ سوريايي جنګيالي د ترکيې لخوا د ۲۰۲۰ کال په لومړيو دريو مياشتو کې ليبيا ته استول شوي دي. دا د امريکا د پوځ لخوا لومړنی راپور دی چې په ليبيا کې د ترکيې لخوا د پوځيانو د ځای پر ځای کېدو په اړه جزييات ورکوي. د راپورونو له مخې د ترکيې دا ډول اقدامات هغه څه دي چې په ليبيا کې يې د جګړې د مسير له بدلون سره مرسته کړې ده.

د يادونې ده چې ليبيا په شمالي افريقا کې هغه هېواد دی چې حکومت يې په نړيواله سطح پېژندل شوی دی. له ۲۰۱۱ کال وروسته چې د دغه هېواد پخوانی واکمن معمر القذافي د ناټو په ملاتړ مظاهرو په نتيجه کې له واکه لرې او ووژل شو، ليبيا په کورنۍ جګړې کې ښکېله ده.

اوسمهال د ليبيا په کورنۍ جګړه کې حکومت د دغه هېواد په ختيځ کې د خليفه حفتر په نوم د يوه ياغي قوماندان سره په جګړه دی. دغه قوماندان ځانته يو پوځ جوړ کړی او د ليبيا ملي پوځ يې بولي.

ترکيې د ليبيا د حکومت پلوه وسله والو سره مرسته کړې ده او دغه راز قطر او ايټاليا هم د طرابلس د حکومتي ځواکونو ملاتړي دي. بلخوا روسيې د يوې پوځي قراردادي ډلې په مرسته چې ويل کېږي له کرېملين سره تړاو لري، په ليبيا کې ياغيانو ته مرسته کړې ده. فرانسه، مصر، اردن او عربي متحده امارات هم د خليفه حفتر د ځواکونو ملاتړي دي.



ملګرو ملتونو او لويديځو چارواکو پر روسيې او ترکيې دواړو انتقاد کړی چې په ليبيا کې د خپلو متحدينو په پوځي ملاتړ يې په دغه هېواد کې تاوتريخوالی لا ډېر کړی دی.

د امريکا متحده ايالاتو مسکو تورن کړی چې په ليبيا کې يې پوځي جېټ الوتکې ځای پرځای کړې دي. مسکو بيا په ليبيا کې د کومي قراردادي ډلې د ځای پر ځای کولو او هم هغه هېواد ته د الوتکو استول ردوي.

د پنټاګون نوی راپور وايي چې ترکيې زرګونو هغو وسله والو ته چې په طرابلس کې له مېشتو ملېشو تر څنګ د خليفه حفتر پر ضد جنګېږي، مالي مرسته کړې او هغوی ته يې د خپل هېواد د تابعيت ورکولو وړانديز کړی دی.

## د کتــاب خبــرې


# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◉ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◉ ژباړن: علي‌الله متوکل

**دویمه برخه**

**یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارایي**

**شپارسم څپرکی**




زما شتمن پلار ویل، دا خلک ډېر خطرناک دي. «دوی د کیشفانو په څېر دي. تر خپلې کاسې لاندې ستومانه وي. که یې د ملا کاسه ترې لرې کوې، نو غوسه کېږي. ښایي ومو چیچي.»

له دې څخه دا درس اخلو: دا کیشف غوندې خلک پرېږدئ چې د کیشف په څېر هیلې ولري. دوی چېرته نه ځي او د دوی په اند دا غوره کار وي.

**هغه خلک چې خپلو هیلو ته رسېدلي؛ خو خواشینی ژوند لري**

یو ملګری مې وایي:((شل کاله مخکې مې د ډاکټر کېدو هیله لرله. ډاکټر شوم. له ژونده مې خوند اخیست؛ خو اوس خواشینی یم. یو څه مې کم دي.))

خواشیني عموماً د نوې هیلې د پیدا کېدو نښه وي. زما شتمن پلار راته ویل:((ډېر خلک په هغو برخو کې کارونه کوي چې د ښوونځي په وختو کې یې د هغو هیلې لرلې. ستونزه دا ده چې د ښوونځي د پای ته رسېدو اوس لسګونه کلونه کېږي. اوس د یوې نوې کارنامې وخت را رسېدلی دی.))

**هغه خلک چې له هیلو لاس اخلي**

دا هغه خلک دي چې لویې هیلې لري؛ خو دې هیلو ته د رسېدلو لپاره پلان نه لري. نو له هیلو لاس اخلي.

فکر کوم موږ ټول د دغې ډلې یو څوک پېژنو. دا خلک لویې هیلې لري؛ خو هیلو ته د رسېدو لپاره هېڅ پلان نه لري او یوازې دا خبرې کوي:«لوی پرمختګ مې کړی. زه به خپل نوی پلان درته تشریح کړم.» یا وایي:«دا ځل به هرڅه بل ډول وي.» یا وایي:«زه د ژوند په یوه نوي اړخ کې یم.» یا وایي:«زه سخت کار کوم، د پیسو حسابونه مې خلاصوم او پانګونه کوم» یا وایي:«خبر شوی یم چې یو نوی شرکت فعالیت پیلوي او زما د وړتیاوو مطابق خلک یې پکار دي. دا به زما لپاره طلایي چانس وي.»

زما شتمن پلار ویل:((داسې خلک غواړي ډېر څه ترلاسه کړي. هڅه کوي چې هر څه په خپله وکړي. حال دا چې ډېر لږ خلک هر څه په یوازې ځان ترسره کولای شي. دا خلک باید لویې هیلې ولري، پلانونه جوړ کړي او یوه ډله خلک پیدا کړي چې د هیلو په رښتیا کولو کې مرسته ورسره وکړي.))

**هغه خلک چې د تر هیلو پوره کېدو وروسته نورې لویې هیلې لري**

دا هغه خلک دي چې لویې هیلې لري؛ خپلو هیلو ته رسېږي او د نورو لویو هیلو خوبونهویني.

فکر کوم موږ ټول غواړو همداسې خلک واوسو. زه خو دغسې یم. تاسو څنګه؟

شتمن پلار مې ویل:((لوی خلک لویې هیلې لري او کوچني خلک کوچنۍ. که غواړئ ځان تغییر کړئ، لومړی مو هیلې او خوبونه تغییر کړئ.))

تاسو پوهېږئ چې زه بیخي مفلس او دیوالیه وم. له مېرمنې سره مې په موټر کې ژوند کاوه. پوهېږم چې دا څومره سخته ده. خو مفلسي لنډمهاله او تېرېدونکې وي. مفلس او فقیر ډېر توپیر لري. فقیر یو بېل کس او یو فکري طرز دی. ښایي مفلس او دیوالیه یئ؛ خو په معنویاتو، لوړو هیلو، جراات او ټینګه اراده کې شتمن یئ. هیلې لرل بیه نه لري، ان لویې لویې هیلې لرل او خوبونه لیدل هم وړیا دي. مهمه نه ده چې څومره مفلس یئ؛ خو له خپلو هیلو او خوبونو له رښتیا کولو لاس اخیستل به مو هرو مرو نېستمن او فقیر کړي.

د شبکه یي بازارموندنې د ژوند ډول په دې خاطر خورا ارزښتناک دی چې ستاسو هیلې په یوه ځانګړي وخت پورې محدودې نه وي. له دې تجارت سره په یو ځای کېدو تاسو د خپلو هیلو په حقیقت بدلول شروع کوئ. ان له لومړۍ ورځې کوچني ګامونه پورته کوئ.

شبکه یي بازارموندنه له «نه یې شم کولای» څخه «کولای یې شم» لوري ته بدلېدل دي. د زړ سوي له حالت څخه د ژوند واګې د په لاس کې اخیستلو لورته حرکت دی. له غلامۍ څخه د ازادۍ لوري ته د پرمختګ ګامونه دي.

د ژوند په اختیار کې درلودلو په اړه، مشهور فیلسوف «تورو» وایي:((له خپلو تجربو مې لږ تر لږه دا زده کړل، که څوک د خپلو هیلو په رښتیا کولو کې پرمختګ وکړي او د خپل فکر مطابق د ژوند کولو هڅه وکړي، ناڅاپه او سمدستي بریا به ومومي.»

**دوام لري...**

# کهندژ د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




د لوړو زده کړو خصوصي موسسې د لوړو زده کړو په وزارت کې تر ثبت او راجستر وروسته خپلې رسمي چارې په ۱۳۹۴ لمریز کال کې د دوو پوهنځیو (اقتصاد او ښوونې او روزنې) په درلودلو سره پیل کړې. د کهندژ د لوړو زده کړو خصوصي موسسې رییس انجنیر افشین ایماق وایي، دا چې د فعالیت یې لا دومره موده نه کېږي، نو تر اوسه پورې یوازې همدا دوه پوهنځي لري چې عملاً پکې محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي.

د کهندژ د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، په لومړي کال یې د محصلینو شمېر ۱۸۰ تنه و، چې اوسمهال د ۱۸۰۰ په شاوخوا کې محصلین لري. ښاغلی ایماق وایي چې ویلای شي د محصلینو پنځوس سلنه یې ښځینه دي او دا د دوی لپاره د وړیاړ ځای دی. دا چې په کهندژ د لوړو زده کړو خصوصي موسسه کې څوارلسم پاس هم نوملیکنه کولای شي، نو ښاغلی ایماق وایي، تر اوسه پورې یې شپږ دورې محصلین ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

دی وایي، د ښوونې او روزنې پوهنځي محصلین یې خپله په کندوز او د هېواد په نورو ولایتونو کې د مسلکي ښوونکو په توګه پر دندو بوخت دي. نوموړی زیاتوي، له اقتصاد پوهنځي څخه فارغ شویو محصلینو یې هم په بېلابېلو دولتي او خصوصي ادارو کې دندې اخیستې دي.

د کهندژ د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، دا چې په کندوز ولایت کې خورا ډېرې امنیتي ستونزې دي، نو د دوی د نویو محصلینو کلنی جذب هم تر ډېره په امنیتي او اقتصادي وضعیت پورې تړلې خبره ده. دی وایي، که په یاد ولایت کې امنیتي وضعیت ښه وي، نو د دوی کلنی جذب هم ور سره ښه وي، خو وایي چې دغه څه هر کال توپیر کوي او ویلای شي چې هر کال د ۴۰۰ په شاوخوا کې نوي محصلین جذبوي.

د انجنیر افشین ایماق په خبره، په تېرو څلورو کلونو کې یې د کندوز ولایت په کچه له بېلابېلو ادارو او بنسټونو سره هوکړې لاسلیک کړې دي، چې له مخې به یې له دې بنسټونو او ادارو څخه دوی ته ور معرفي شویو کسانو ته مناسب تخفیف ورکوي. دی وایي چې لومړنی تخفیف یې ښوونکو ته په پام کې نیولی چې څلوېښت سلنه تخفیف دی. له هغه وروسته د شهیدانو او معلولینو د ورثه‌وو لپاره او په همدې ترتیب د بې وزله او اړمنو کسانو لپاره له دېرش نیولې تر شل سلنه پورې تخفیف ورکوي، څو دغه کسان هم وکولای شي خپلې لوړې زده کړې بشپړې کړي. د لوړو زده کړو په دې موسسه کې د ورځې په دوو وختونو کې درس ورکول کېږي. د ښاغلي ایماق په خبره، د دوی ډېری تمرکز پر هغه کسانو دی چې د ورځې لخوا په دولتي یا خصوصي ادارو کې کار کوي او یا هم په ښوونځي کې د ښوونکو په توګه دنده سرته رسوي، نو همدې ټکي ته په کتو یې درسي وختونه داسې تنظیم کړي چې هم د سهار لخوا او هم له غرمې وروسته دغه کسان وکولای شي خپلو درسونو ته رسیدګي وکړي.

د کهندژ د لوړو زده کړو خصوصي موسسې د خپلو محصلینو او استادانو لپاره د کتابتون اسانتیاوې هم برابرې کړې دي. د دې موسسې رییس وایي، د ۲۸۰۰ په شاوخوا کې په هارډ او له لس زره ډېر په سافټ ډول کتابونه لري، چې محصلین او استادان ترې ګټه اخیستی شي. ښاغلی افشین ایماق وایي چې د لس زره په شاوا خوا کې کتابونه یې په سافټ ډول په کمپیوټرونو کې ځای پر ځای کړي دي او د نشراتو برخه یې له محصلینو سره دا مرسته هم کوي، چې که د سافټ کتابونو کومې برخې ته په هارډ ډول اړتیا ولري، ورته پرنټوي یې او ګټه ترې اخلي.

انجنیر افشین ایماق وایي چې په کور د ننه له ټولو خصوصي او دولتي پوهنتونونو سره علمي اړیکې او ښه همغږي لري، خو له هېواده بهر هم له ځینو پوهنتونو سره اړیکې لري. دی وایي چې په رسمي ډول یې د تاجکستان له ملي پوهنتون سره د علمي اړیکو یوه هوکړه لاسلیک کړې ده چې له مخې یې څه موده وړاندې یو تن استاد د دوکتورا او څلور نور د ماسترۍ اخیستو په موخه دغه پوهنتون ته ور معرفي کړي دي. دی وایي، له کندوز تر تاجکستان پورې درې ساعته مزل دی، چې استادان یې کولای شي په تشو ورځو خپلو زده کړو ته لاړ شي او په پاتې ډکو ورځو کې خپلې د تدریس چارې مخ ته یوسي.

په کهندژ د لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې د ۶۰ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي چې له دې ډلې پنځلس تنه یې ښځینه استادانې دي. د افشین ایماق په خبره، شل تنه دایمي استادان یې د ماسترۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. دی وایي، استادان یې په خپل مسلک کې د تدریس کافي تجربه لري او هڅه یې دا ده چې په کار پوه او مسلکي کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي.

د نظري زده کړو تر څنګ، کهندژ د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو د وړتیاوو لوړولو او تجربو تر لاسه کولو لپاره بېلابېل عملي پروګرامونه هم لري. د دې موسسې رییس وایي، وخت ناوخت محصلینو ته سمینارونه او ورکشاپونه جوړوي او داسې لارې چارې ورته برابروي، چې د محصلینو وړتیاوې لوړې شي او کافي تجربې تر لاسه کړي. دی وایي، د دوی د ادارې هڅه دا ده چې په کار پوه، مسلکي او تجربه لرونکي کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي څو هم د خپل ځان، کورنۍ او هم هېواد او ټولنې لپاره ګټور ثابت شي او د خپل هېواد په ابادۍ کې برخه واخلي.

د کیفیت د تضمین پروګرام ته پاملرنه او له بېلابېلو نړیوالو پوهنتونونو سره د علمي هوکړو لاسلیکول د لوړو زده کړو د دې موسسې راتلونکي پلانونه دي. د دې موسسې رییس وایي چې غواړي په راتلونکي کې له هېواده بهر له ځینو بهرنیو پوهنتونونو سره د علمي اړیکو هوکړې لاسلیک کړي، څو له مخې یې د استادانو تر څنګ، هغه محصلین هم د لا نورو لوړو زده کړو لپاره دغو پوهنتونونو ته ور واستوي چې د دوی له موسسې فارغېږي.

د کهندژ د لوړو زده کړو موسسې اداره اوسمهال له کومې ستونزې سر نه ټکوي، خو وایي، د افغانستان بیا په ځانګړې توګه د کندوز د خلکو یوازینۍ ستونزه د امنیت خرابوالی. دی وایي، اوسمهال یې یوازینۍ ستونزه په کندوز ولایت کې ناامني ده. نوموړی له لوړو زده کړو وزارت راضي ښکاري او وایي چې لوړو زده کړو وزارت ورسره همکار دی او د دې وزارت لخوا د کیفیت د تضمین پروګرام پوره ملاتړ کوي.

اوسمهال ډېری خصوصي پوهنتونونه د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي او د خلکو لپاره یې د لوړو زده کړو زمینه برابره کړې ده. دا چې هر کال په یوه زیاته کچه کسان له دوولسمو ټولګیو فارغېږي، نو لوړو زده کړو وزارت نه شي کولای یوازې په دولتي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو په موسسو کې دغه کسان جذب کړي. د هغو کسانو لپاره چې دولتي پوهنتونونو ته لار نه شي موندلی او یا هم غواړي د رسمي دندې تر څنګ لوړې زده کړې وکړي او یا هم نور پوهنځي ولولي، خصوصي پوهنتونونه ورته په دې برخه کې یو ښه چانس دی. نن سبا د نړۍ ډېری مخکښ پوهنتونونه خصوصي پوهنتونونه دي، خو دا چې دا په افغانستان کې یوه نوې تجربه ده، نو د حکومت په ځانګړې توګه د لوړو زده کړو وزارت ځانګړې پاملرنې ته اړتیا لري. د خصوصي پوهنتونونو ډېری مالکین وایي، چې مالیې وزارت ترې ملا ماتوونکې مالیه اخلي او د یوه سوداګریز مرکز په سترګه ورته ګوري. دوی له مالیې وزارت غواړي چې له خصوصي پوهنتونونو څخه د لوړې مالیې پر مکانیزم له سره غور وکړي، ځکه دا اکاډمیک مرکزونه دي او د یو څه ګټې تر څنګ د هېواد د راتلونکي لپاره کار کوي او نوي ځوانان د علم په ګاڼه سمبالوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۹۵ |
| € | ۸٦ |
| Rp. | ٤۵۹ |
| ₹ | ۱۰۵۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹٤,۲۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# چطور کودکانی سخت‌کوش و جاه‌طلب تربیت کنیم؟

امین همتی

تربیت کودکان جزء پیچیده‌ترین مباحث در علوم روان‌شناسی است. سال‌هاست که محققان و انسان‌شناسان به‌دنبال روش‌ها و راهکارهایی قاعده‌مند برای تربیت کودکان هستند. با وجود تفاوت‌های کودکان با یکدیگر، این دانشمندان توانسته‌اند روش‌های معتبری را برای تربیت اغلب کودکان ارائه کنند. در این مقاله به‌دنبال پاسخ این پرسش هستیم که چطور کودکانی سخت‌کوش و جاه‌طلب تربیت کنیم که در آینده زندگی هدفمندی داشته باشند.

ماریبل بنیتز راسکو سخت کوشی پدر و مادرش را به یاد می‌آورد. پدرش آشپز و مادرش خدمتکار رستوران بود. آنها کار خودشان را از ساعت چهار بامداد شروع می‌کردند.

خانم راسکو همان روحیه کاری را از والدینش به ارث برده است. او درباره تجربه کودکی‌اش می‌گوید: «بخش مهمی از شکل‌گیری روحیه سخت‌کوشی و جاه‌طلبی من، از تماشای تلاش بی‌وقفه والدین‌ام به من رسید.»

او حالا روان‌درمانگر و مادر فرزندی دوساله است. اما شک دارد که پسرش همان روحیه خانوادگی را به ارث ببرد. پسر او راحتی و امکاناتی دارد که راسکو هرگز آنها را نداشت. خانم راسکو فقط یکی از بی‌شمار والدینی است که نگران آینده و تربیت فرزندان خود هستند.

روان‌شناسان درباره چگونگی تربیت کودکی که در بزرگ‌سالی اهل سخت‌کوشی و جاه‌طلبی باشد، نظرها و راهکارهای متفاوتی ارائه می‌کنند. در این مقاله ۵ روش مهم بر اساس توصیه روان‌شناسان را معرفی می‌کنیم:

۱. بگذارید کودکان آنچه را که به آنها انگیزه می‌دهد، پیدا کنند

کودکان همیشه به‌دنبال چیزی می‌گردند که به آنها انگیزه بدهد. کاری که بتوانند ساعت‌ها به آن مشغول شوند و احساس دل‌زدگی و خستگی نکنند. وظیفه شما والدین این است که زمینه لازم برای فعالیت کودک در عرصه‌های مختلف را فراهم کنید.

هرچه کودک شما تجربه‌های بیشتری کسب کند، بهتر می‌تواند عرصه موردعلاقه‌اش را بیابد. بااین‌حال



نباید افراط کرد؛ باید فرصتی هم برای استراحت و بیکاری در نظر گرفت. حتی سررفتن حوصله کودک هم در برخی مواقع مفید است، چون او را وادار به فکرکردن درباره چیزهای سرگرم‌کننده و خلاقیت‌آفرین می‌کند.

یکی از ساده‌ترین روش‌ها برای یافتن علایق و انگیزه‌های کودک، پرسیدن این سؤال معروف است: وقتی بزرگ شدی دوست داری چه‌کاره شوی؟ پاسخ به این پرسش اگرچه ماه به ماه تغییر می‌کند، همین تغییرها نشانه خیال‌پردازی کودک درباره مسائل مختلف است.

پرسش دیگری که به فهم انگیزه کودک کمک می‌کند، پرسیدن درباره الزامات رؤیاهای او است؛ مثلا از او بپرسید: برای اینکه به فلان شغل برسی، چه کارهایی را باید انجام بدی و چه چیزهایی را باید یاد بگیری؟ طرح این پرسش باعث می‌شود تا کودک بیشتر به عمق رؤیاهایش برود و آنها را به کارهای عملی تبدیل کند.

به‌عنوان والد روی زمان حال تاکید کنید. او را به‌سمت کارهایی سوق دهید که اکنون باید انجام دهد تا در آینده بتواند به‌سمت اهدافش حرکت کند، مثلا خوب درس‌خواندن، مراقبت از سلامتی و رعایت بهداشت.

۲. بر سخت‌کوشی تأکید کنید

اگر می‌خواهید کودکان سخت‌کوشی پرورش دهید، روی تلاش آنها برای انجام کارهای روزانه حساب باز کنید. کودکان علاقه زیادی برای انجام کارهای روزمره دارند. آنها را منع نکنید. در عوض، شرایط امنی در خانه فراهم کنید تا آنها بتوانند فعالیت‌هایی مانند آشپزی کردن، چیدن و جمع‌کردن سفره، کاشت و آبیاری گیاهان خانگی را تجربه کنند.

درگیرشدن کودک در این فعالیت‌ها باعث تقویت مهارت حل مسئله می‌شود. چندان نگران درست انجام شدن کار و نتیجه مطلوب نباشید. صرفاً تلاش صورت‌گرفته را تحسین کنید و متناسب با آن پاداش دهید. دادن پاداش و تشویق کودکان به آنها یاد می‌دهد که تلاش او بی‌ثمر نیست و بعدها در جامعه به‌اندازه سخت‌کوشی‌اش از تشویق‌هایی بهره‌مند خواهد شد.

۳. فرهنگ خانوادگی را زنده نگه دارید

کودکان از طریق شنیدن داستان زندگی بزرگترها چیزهای مهمی مثل سخت کوشی می‌آموزند.

کودکان عاشق شنیدن داستان هستند. آنها دوست دارند بدانند که پدربزرگ و مادربزرگ‌هایشان چگونه زندگی می‌کردند. بیان تجربه‌های زندگی نسل‌های پیشین، سختی‌هایی که پشت‌سر گذاشتند و فداکاری‌هایشان برای کودکان عبرت‌آموز است.

این کار علاوه بر افزایش حس قدردانی و شکرگزاری، آنها را با مفاهیم مهمی چون سخت‌کوشی و ارزش زندگی آشنا می‌کند. این داستان‌ها به کودکان نشان می‌دهد که آنها وارث این ویژگی‌های مثبت هستند و می‌توانند همچون بزرگ‌ترهای خود از پس سختی‌ها و مشکلات برآیند.

لازم نیست این داستان‌ها را با آب‌وتاب فراوان و در زمان‌های مشخصی تعریف کنید؛ کافی است در لابه‌لای روزمرگی‌ها و به بهانه‌های مختلف، این حکایت‌ها را در قالب جمله‌های ساده و کوتاه بیان کنید.

۴. به کودکان فرصت اشتباه‌کردن بد هید

شکست خوردن و اشتباه‌کردن جزئی از فرایند یادگیری و کسب تجربه است. به کودکان فرصت خطاکردن بدهید. بگذارید هنگام بازی، خودشان راه را پیدا کنند. اجازه دهید که هنگام غذاخوردن، قاشق را خودشان به دست بگیرند. نگران کثیف‌شدن لباس‌هایشان نباشید.

هنگام مواجهه با یک مسئله یا مشکل، ابتدا به کودک فرصت کافی برای آزمون‌وخطا بدهید. به او اطمینان دهید که شما آنجا هستید تا به او کمک کنید؛ اما فقط بعد از آنکه او به‌اندازه کافی تلاش کرد.

اگر کودک در حل مسئله‌ای به بن‌بست خورده است، سعی کنید با طرح پرسشی، ذهن او را به‌سمت راه‌حل سوق دهید. مثلا از او بپرسید: چه کارهایی باهم می‌توانیم انجام دهیم تا مسئله را حل کنیم؟

به یاد داشته باشید والدینی که از روی دل‌سوزی یا نگرانی فرصت اشتباه‌کردن را به فرزندان خود نمی‌دهند، اعتماد به نفس را در کودکشان کشته و آنها را آدم‌هایی وابسته بار می‌آورند.

۵. سختی‌ها و فشارها را از کودکان پنهان نکنید

خیلی از پدر و مادرها متحمل سختی‌های زیادی می‌شوند، اما آنها را از چشم کودکان خود پنهان می‌کنند؛ شاید به این دلیل که نمی‌خواهند آنها را ناامید یا ناراحت کنند. اما واقعیت این است که آشنایی کودکان با بخشی از سختی‌های زندگی و البته غلبه شما بر آن دشواری‌ها، باعث رشد نگرش مثبت و مثبت اندیشی آنها می‌شود.

محققان مؤسسه فناوری ماساچوست (MIT) دریافته‌اند که تماشای سخت‌کوشی والدین بر نگرش کودکان درمورد تلاش تأثیرگذار است. پس بد نیست که گاهی آنها را در جریان سختی‌ها و مشکلاتی قرار دهید که با موفقیت پشت‌سر گذاشته‌اید و به آنها درس تسلیم‌نشدن دهید.

به یاد داشته باشید که شما اولین الگوی فرزندان خود هستید. هرگونه رفتار و نگرش‌های شما در شکل‌گیری شخصیت آینده آنها تأثیر بسزایی دارد. اگر به‌عنوان پدر و مادر راهکار یا تجربه‌ای دارید که می‌تواند در سخت‌کوشی کودکان کمک‌کننده باشد، تجربه‌هایتان را از طریق دیدگاه‌ها با دیگر مخاطبان چطور به‌اشتراک بگذارید. بد نیست شما هم مانند خانم راسکو، نگاهی به دوران کودکی خودتان داشته باشید.

# د زعفران کارانو ملي ټولنه: کرونا ویروس د زعفرانو بازار له ګواښ او کمښت سره مخ کړی دی

د افغانستان د زعفران کارانو د ملي ټولنې چارواکي وايي، چې د کرونا ویروس د خپرېدو له کبله سږ کال شاوخوا اته ټنه زعفران بهرته صادر نه شول.

یاده ټولنه وايي، د کرونا ویروس له خورېدو سره زعفران چې د افغانستان سره زر هم ورته وايي، پخوانی بازار نه لري. د دغې ټولنې په خبره، سږکال شاوخوا اته ټنه زعفران نورو هېوادونو ته صادر نه شول.

زعفران کاران وايي، په وروستيو څلورو مياشتو کې د صادراتو بازارونه د افغانستان د زعفرانو پر مخ تړلي وو چې له دې سره د زعفرانو د زرګونو پروسس کوونکو او کاروباريانو کارونه په ټپه درېدلي دي.



د يادې ټولنې مشر بشير احمد رشيدي له آزادي راډيو سره په خبرو کې د زعفرانو د يو شمېر پروسس کوونکو شرکتونو د بازار د کمېدو په اړه اندېښنه ښودلې ده.

هغه زياته کړې: «ډاډه یم چې په څه باندې دريو مياشتو کې هېڅ ډول صادرات ونشول، دا کار اوس هم دوام لري او د صادراتو کمی ليدل کېږي، زموږ صادرات عربي هېوادونو، اروپا او امريکا ته کېږي، خو څومره چې موږ تمه درلوده چې روان کال بايد صادر شوي وای، له بده مرغه موږ نه درلوده، اصلي لامل کوويډ- ۱۹ ناروغي وه، له هرې لارې چې وي بايد د زعفرانو د پروسس کوونکو شرکتونو ملاتړ وشي، څو له اقتصادي ماتېدو وژغورل شي.»

په ورته وخت کې د هرات زعفران کاران سردار آغا او نثار احمد د زعفرانو د حاصل ټولولو پر مهال د ښو مارکېټونو هيله درلوده، خو اوس وايي، د زعفرانو بيه څه باندې څلويښت سلنه ټيټه شوې ده.

د يادونې ده چې د افغانستان ۹۰ سلنه زعفران په هرات ولايت کې کرل کېږي. د دغه ولايت د کرنې رياست چارواکي وړاندوينه کوي چې په روان کال کې به د هرات د زعفرانو حاصلات ۲۰ ټنه وي. د دې رياست د پلان مدير عتيق الله رومل خبرداری ورکوي چې که د زعفرانو صادرات بيا پيل نه شي، بيه به يې ډېره راټيټه شي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily








یکشنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ ۲۹مه | د ۲۰۲۰ د جولای ۱۹مه | ۵٦۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۳ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۸ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۵ | لمر ختل ۰٤:۵۵ | ماسپښین ۱۲:۰۱ | مازیګر ۰۳:٤۹ | ماښام ۰۷:۰۵ | ماخوستن ۰۸:٤۹

## نړۍ

## پنټاګون: ترکیې زرګونه سوریايي جنګيالي د لیبیا د حکومتي ځواکونو د ملاتړ لپاره هغه هېواد ته استولي دي



۳

## راپورونه: په برما کې د تازه نښتو له کبله زرګونه روهینګیایان د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوي



د راپورونو له مخې، په دې وروستیو اونیو کې د برما د راکین په ایالت کې د پوځ او د یوې نژادي وسله والې ډلې ترمنځ یوځل بیا نښتې زیاتې شوې چې زرګونو ملکیانو ته یې خطر پېښ کړی دی. د برما پوځ د اراکان ډلې له سرتېرو سره د راکین او چن په ایالتونو کې جګړې کوي. دغې ډلې چې د مرکزي حکومت پر ضد ځینې شکایتونه کړي، د تېرکال له جنورۍ راهیسې یې په تاوتریخوالي کې زیاتوالی راوستی دی. د امریکا متحدو ایالتونو، استرالیا، برتانیا او کاناډا په یوې ګډې اعلامیې کې ټینګار شوی چې باید بشري سازمانونو ته دې اجازه ورکړل شي چې په مناسب وخت کې سیمې ته مرستې ورسوي، په ځانګړي ډول په داسې حالاتو کې چې خلک د کروناویروس او موسمي بارانونو له ستونزو سره لاس او ګریوان دي. په دې اعلامیې کې د ملکیانو، د هغوی د جایدادونو، ښارویو او کروندو د خوندیتوب غږ شوی دی. اعلامیه وایي چې د «کیوتکان» د کلي په اوړدو کې د خلکو بې ځایه کېدل په راکین کې د داخلي بېځایه شویو شمېر په نور هم زیات کړي. د دوی په خبره: «موږ په هغو راپورونو خبر یو چې هلته جایدادونه سوځول شوي، توغندي وېشتل شوي او کلیوال نیول شوي دي.» د اعلامیې پر اساس، امریکا، برېټانیا او کاناډا په ټولو وسله والو ډلو غږ کړی چې په هغو سیمو کې چې ځایي خلک اوسیږي، له زغم او حوصلې څخه کار واخلي.

## راپورونه: ایران د اوکراینی مسافر وړونکې الوتکې تور بکس فرانسې ته لېږلی دی

د راپورونو له مخې، ایراني چارواکو د اوکراینی مسافر وړونکې الوتکې د پرواز د معلوماتو د ثبتولو ماشین چې تور بکس بلل کیږي، فرانسې ته لیږلی دی.

ایران منلې چې پوځ یې دا مسافر وړونکې الوتکه د انساني تېروتنو له کبله ویشتلې او غورځولې وه. د راپورونو له مخې، په الوتکه کې ۱۷٦ کسان سپاره وو او ټول یې وژل شوي و.

په حقوقي او نړیوالو چارو کې د ایران د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال محسن بهاروند ایراني مطبوعاتو ته ویلي چې د هوایي چلند او قضایه قوې د پرېکړې له مخې، د الوتکې تور بکس فرانسې ته لېږل شوی دی.

په ویشتل شوې الوتکه کې اکثریت وژل شوي کسان د کاناډا اتباع وو. کاناډا او اوکراین له څو میاشتو راهیسې په کراتو په ایران ټینګار کاوه چې د الوتکې تور بکس دې بهر ته واستوي چې د ویشتل کېدو پر وخت وروستي معلومات ترې واخیستل شي او ارزیابي شي، خو ایراني چارواکو د دې کار نه انکار کاوه.

ایران اوس وایي، دا چې د کرونا د وبا له وجې اکثریت نړیوال پروازونه لغوه شوي، په همدې خاطر د الوتکې د تور بکس استول هم وځنډېدل.


## عثمانی: به شمول روئسا، ده کارمندان وزارت صحت عامه متهم به فساد به څارنوالی معرفی شده



محمد جواد عثمانی سرپرست وزارت صحت عامه میگوید که در نتیجه بررسی ها با شمول روئسا ده کارمندان متهم به فساد به څارنوالی معرفی شده است. عثمانی گفت که این وزارت از تمام شکایت های مردم افغانستان پیرامون وجود فساد در سیستم صحت استقبال میکند. وی میگوید، بررسی خدمات صحی حکومتی را آغاز کرده و ده کارمند این وزارت که شماری رئیسان نیز شامل آن میباشد به څارنوالی معرفی کرده است. به گفته او، این ده تن در بیغوری پروسه تدارکات، سوء استفاده از بودیجه ولایتی، ناتوانی مدیریتی و تعیینات غیر قانونی متهم اند. وی نام و موقف افراد متذکره را مشخص نساخت، اما گفت که پیرامون این تمام موارد بعد از تحقیق و بررسی لوی څارنوالی روشن خواهد شد. عثمانی بدون ارایه جزییات افزود: «اسناد مربوط خرید ماشین سیتی سکن در وزارت را جمع آوری کرده ایم... و برای تحقیق به څارنوالی فرستاده خواهد شد.» این در حالی است که هفته گذشته آژانس خبری پژواک و روزنامه هشت صبح از اختلاس بودیجه مختص شده در بخش مبارزه با ویروس کرونا یک تعداد گزارش های را نشر کرده بودن. محمد جواد عثمانی سرپرست وزیر صحت عامه همچنان گفت که حکومت از راه پروسه تدارکات، ۵۰۰ اله تنفس مصنوعی (وینتلاتور) از بودیجه وزارت صحت در جرمنی خریداری کرده و به تاریخ ۱۴ ماه سرطان به کشور انتقال یافته است. وی دیروز در یک نشست خبر گفت که از میان این وینتلاتورها روند ارسال ۱۰٦ آن به شفاخانه های کابل و هشت ولایت دیگر آغاز شده اند. او افزود: «وینتلاتور به اساس نفوس و ضرورت به ولایات ارسال میشود، و در مورد استفاده از این ماشین نیز پلان دارد، تیم های مخصوص ایجاد شده و هر چه زودتر به ولایت ها فرستاده خواهند شد.»

## ژوند

## ربښتیني ازادي له مالي پوهې سره تړلې ده



تاسو په مالي مسایلو کې د نورو پرېکړو او سلا ته اړ او یو ډول ور پورې تړلي یاست. مهمه نه ده چې تاسو څومره پیسې لرئ، خو تاسو به د مالي پوهې د نه لرلو له کبله یو ډول په نورو پورې تړلي یاست. دغه ډول که تاسو د ژوند په نورو اړخونو کې په یو بل چا پورې تړلي وی، نه شی کولی ربښتیني ازادي تجربه کړی. نړۍ له ډېرو داسې کسانو ډکه ده چې شتمن شوي، خو د مالي پوهې د نه درلودلو له کبله یې خپله شتمني بېرته په ډېرې اسانۍ له لاسه ورکړې ده. تاسو هم که د مالي پوهې له اړخه په نورو پورې تړلي وی، نو په دې پوه شی چې خپله راتلونکې مو چانس ته پرې ایښې ده. مالي پوهه تاسو ته دا درس در کوي چې کب څه ډول ونیسی، څو د کب نیولو لپاره بیا نورو ته اړ نه شی. د مالي پوهې زده کول تر ټولو ستره پانګونه ده.

## اوپو نوی چارجر ځیرک موبایلونه په ۲۰ دقیقو کې چارجوي

د ډېرې مودې لپاره چارج نه ساتل او په ډېر وخت کې بېرته چارجېدل د ځیرکو موبایلونو تر ټولو لویه ستونزه بلل کېږي، خو د اوپو کمپنۍ کاروونکو دې ستونزې ته د پای ټکی کېښود. دغه چینایي کمپنۍ له ډېرې مودې د چټک چارج سیستم په برخه کې فعالیت کوي چې په دغه برخه کې ځانګړې لاسته راوړنې هم لري او اوس یې یو ځل بیا د نړۍ تر ټولو چټک چارجر څخه پرده پورته کړه. اوپو کمپنۍ د یوې غونډې له لارې خپل نوي چارجرونه چې یوازې په څو دقیقو کې ځیرک موبایل ٪۱۰۰ چارجوي، کاروونکو ته معرفي کړل. په دې غونډه کې اوپو کمپنۍ ۱۲۵ واټ، ۵۰ واټ مني سوپر ووک، ۱۱۰ واټ مني فلش او ٦۵ واټ اېیر ووک چارجرونه معرفي کړل. اوپو کمپنۍ ادعا کوي چې ۱۲۵ واټ وړتیا لرونکی فلش چارجر ټکنالوژي ۴۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ یوازې په ۲۰ دقیقو کې ٪۱۰۰ چارجوي. دغه چارجر یوازې په پنځو دقیقو کې ورته وړتیا لرونکې بېټرۍ ٪۴۱ چارجوي.

